# الله تعالی به ټول خلک - له لومړیو څخه تر وروستیو پورې - په یو میدان کې راټول کړي، داسې چې بلونکي (فرشتې) به غږ ور اوروي، او ټول به یو بل ته ښکاري، لمر به نږدې شي، خلک به له اندېښنې او کړاو څخه دومره پرېشانه شي چې زغملی به یې نه شي

له ابو هريرة رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته غوښه راوړل شوه، نو ده ته د مال لاس ورکړل شو چې دا برخه به یې خوښېدله، نو یو پوټی یې ترې ببل کړ او بیا یې وویل: "زه د قیامت په ورځ د ټولو خلکو سردار یم، آیا پوهېږئ ولې؟ الله تعالی به ټول خلک – له لومړیو څخه تر وروستیو پورې – په یو میدان کې راټول کړي، داسې چې بلونکي (فرشتې) به غږ ور اوروي، او ټول به یو بل ته ښکاري، لمر به نږدې شي، خلک به له اندېښنې او کړاو څخه دومره پرېشانه شي چې زغملی به یې نه شي، نو خلک به یوبل ته ووايي: 'آیا نه وینئ چې څه دررسېدلي؟ آیا یو څوک نه پیدا کوئ چې د رب پر وړاندې مو شفاعت وکړي؟ ځينې به یو بل ته ووايي: آدم - علیه السلام- ته لاړ شئ، نو دوی به آدم علیه السلام ته ورشي، او ورته به ووايي: ته د بشریت پلار یې، ته الله پخپلو لاسونو پیدا کړی یې، له خپل روح څخه یې په تا کې پو کړی دی (یعنې له هغو ارواحو څخه چې الله پیداکړې دي)، ملایکو ته یې امر کړی چې تا ته سجده وکړي؛ نو زموږ لپاره دې رب ته شفاعت وکړه! ته نه وینې چې موږ په څه حال کې یو؟ آدم به ووايي: زما رب نن داسې غصه شوی چې مخکې داسې نه دی غصه شوی او نه به وروسته لدې داسې غصه شي، هغه زه له یوې ونې منع کړی وم، خو ما نافرماني وکړه (نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي) (زه یوازې د خپل ځان په غم کې یم)! بل چاته لاړ شئ، نوح ته لاړ شئ! خلک به نوح ته ورشي، او ورته به ووايي: ته د ځمکې خلکو ته لومړی رسول یې، ته الله په "شکرکوونکی بنده" سره یاد کړی یې، زموږ لپاره دې رب ته شفاعت وکړه! آیا ته نه ګورې چې موږ په څه حال کې یو! نوح به ووايي: زما رب نن داسې غصه شوی، چې مخکې لدې داسې نه و، او نه به وروسته له دې داسې غصه شی، او یقینا چې زما لپاره د قبلېدو یوه دعا وه خو ما خپل قوم ته خبرې وکړې؛ (نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي) (زه یوازې د خپل ځان په غم کې یم)! بل چاته لاړ شئ، ابراهيم ته لاړ شئ! نو خلک به ابراهيم ته ورشي، او ورته به ووايي: ته د الله نبي او د ځمکې پر مخ د هغه خلیل (خاص دوست) یې؛ زموږ لپاره شفاعت وکړه! آیا ته نه ګورې چې موږ په څه حال کې یو؟! ابراهيم به ووايي: زما رب نن داسې غصه شوی، چې مخکې لدې داسې نه و غصه شوی او نه به وروسته له دې داسې غصه شي، او یقینا چې ما درې ځلې دروغ ویلي، نو (نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي)، (زه یوازې د خپل ځان په غم کې یم)! بل چاته لاړ شئ، موسی ته لاړ شئ، نو خلک به موسی ته ورشي، او ورته به ووايي: ته د الله رسول یې، الله ته په رسالت او کلام سره پر نورو خلکو غوره کړی یې، نو زموږ لپاره دې خپل رب ته شفاعت وکړه! آیا ته نه ګورې چې موږ په څه حال کې یو؟! نو هغه به ووايي: زما رب نن داسې غصه شوی چې مخکې لدې داسې نه و غصه شوی او نه به وروسته لدې داسې غصه شي، او یقینا چې ما یو انسان وژلی و، چې ماته یې د وژلو امر نه و شوی، نو (نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي) (زه یوازې د خپل ځان په غم کې یم)! بل چاته لاړ شئ، عیسی بن مریم ته لاړ شئ، نو خلک به عیسی ته ورشي، او ورته به ووايي: ته د الله رسول او د هغه کلمه یې چې مریمې ته یې د هغې په اړه (د جبریل علیه السلام په واسطه) پوهه ورکړه او ورته یې ورسوله ( چې هغه د کن کلمه ده)، او د هغه روح یې (د هغو ارواحو له جملې څخه یې چې الله پیدا کړي دي) او په زانګو کې دې له خلکو سره خبرې کړې دي، نو زموږ لپاره دې رب ته شفاعت وکړه! آیا ته نه ګورې چې موږ په څه حال کې یو؟! نو عیسی به ووايي: زما رب نن داسې غصه شوی چې هیڅکله لدې وړاندې داسې نه و غصه شوی او نه به لدې وروسته داسې غصه شي، او د هیڅ کومې ګناه یادونه ونه کړي، (نَفْسِي

نَفْسِي نَفْسِي) (زه یوازې د خپل ځان په غم کې یم)! بل چاته لاړ شئ، محمد - صلى الله علیه وسلم - ته لاړ شئ، خلک به محمد صلى الله علیه وسلم ته راشي، او ورته به ووايي: ای محمده! ته د الله رسول يې، د انبياوو لړ پر تا پای ته رسېدلې ده، الله ستا مخکني او وروستني ګناهونه بخښلي دي، نو زموږ لپاره شفاعت وکړه! آیا ته نه ګورې چې موږ په څه حال کې یو؟ (وايي) زه به روان شم، د عرش لاندې به سجده وکړم، او الله به پر ما د داسې ستاینو دروازې پرانيزي، چې مخکې هېڅا ته نه دي ورکړل شوي، بیا به وویل شي: "ای محمده! سر پورته کړه، غوښتنه وکړه، درکول کېږي؛ شفاعت وکړه، شفاعت دې قبلیږي! نو زه به سر پورته کړم، او وبه وایم: "زما امت، ای ربه! زما امت، ای ربه! زما امت، ای ربه! بیا به وویل شي: "ای محمده! له خپل امت څخه دې بې حسابه جنت ته له ښۍ دروازې دننه کړه، او دوی به له نورو خلکو سره د نورو دروازو له لارې په ننوتو کې شریک وي، (دا ته نښاسه او نور به د نورو خلکو سره له نورو دروازو ننوځي)، بیا یې وفرمایل: "قسم په هغه ذات چې زما نفس یې په لاس کې دی! د جنت د دروازو د دوو پلو ترمنځ واټن دومره دی لکه د مکې او حِمیر ترمنځ – یا یې وفرمایل: د مکې او بصرې ترمنځ-".

[(صحیح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله علیه وسلم د خپلو ملګرو سره په یوه مېلمستیا کې و، نو د پسه لاس ورته کېښودل شو، حال دا چې د (مال) دا برخه یې ډېره خوښېده، نو یوه مړ یې ترې په غاښونو بېله کړه بیا یې ورته وینا وکړه او ویې فرمایل: زه د قیامت په ورځ د آدم د اولادې سردار یم؛ د هغه نعمت له مخې چې الله تعالى یې راکوي. بیا یې وفرمایل: آیا پوهېږئ چې ولې؟ بیایې وفرمایل چې: خلک به یوې پراخې، برابرې او یو مخ اوردې ځمکې ته راټول کړی شي، ځوک چې پدې ځای کې وي بلونکی د هغوی غږ اوري او کتونکي ته ټول ښکاري چې هېڅ شی یې ترې پټ نه پاتې کېږي؛ ځکه چې ځمکه یو برابر ده، داسې ځای پکې نشته چې څوک پکې د کتونکي له دید څخه پټ پاتې شي، او ټول به د لیدو وړ وي، یعنې که یو یې خبره وکړي، نو وروستی یو به اوري، او سترګې به یې ګوري، (پدې ورځ) به لمر د یوې نیزې په اندازه خلکو ته نږدې شي، له دومره غم او کړاو سره به مخ شي چې زغملی به یې نه شي او نه به یې توان لري، نو په شفاعت سره به د خلاصیدو په لټه کې شي. د ایمان خاوندانو ته به الله تعالی په زړه کې راولي چې د انسانانو پلار آدم ته ورشي، نو هغه ته به ورشي او فضیلتونه به یې بیان کړي چې کېدی شي د الله تعالی پر وړاندې یې شفاعت وکړي، هغه ته به ووايي: ته د انسانانو پلار یې، الله په خپلو لاسونو پیدا کړی یې، خپلې ملایکې یې تاته په سجده کړې او د هر شي نوم یې درښودلی دی، په تا کې یې له خپل روح څخه پو کړی دی، نو هغه به عذر وړاندې کړي او وبه وايي: زما رب نن دومره غصه شوی چې لدې وړاندې داسې ندی غصه شوی او نه به لدې وروسته داسې غصه شي، بیا به د خپلې تېروتنې یادونه وکړي، هغه دا چې الله تعالی له یوې ونې منع کړی و چې خوراک به ترې نه کوي خو ده ترې خوراک وکړ، و وبه وايي: زه په خپله شفاعت ته اړتیا لرم چې راته وشي، زما پرته بل چاته لاړ شئ، نوح ته لاړ شئ. نوح ته به ورشي؛ ورته به ووايي: ته لومړی رسول یې چې الله د ځمکې خلکو ته لېږلی یې، او الله تعالی په شکرکوونکی بنده سره یاد کړی یې، خو هغه به عذر وړاندې کړي چې: الله تعالی نه ورځ دومره غصه شوی چې لدې وړاندې داسې نه دی غصه شوی او نه به لدې وروسته داسې غصه شي، او یقینا چې هغه یوه (قبوله شوې) دعا درلوده، خو هغه خپل قوم ته خبرا وکړه، نو زه خپله شفاعت ته اړتیا لرم چې راته وشي، زما پرته بل چاته ورشئ، ابراهیم ته ورشئ. نو ابراهیم ته به ورشي ورته به ووايي: ته په ځمکه کې د الله خلیل (خاص دوست) یې، موږ ته دې خپل رب شفاعت وکړه، آیا ته نه ګورئ چې موږ په څه حال کې یو؟ هغه به ورته ووايي: زما رب نن دومره غصه شوی چې لدې وړاندې هېڅکله دومره ندی غصه شوی او نه به لدې وروسته دومره غصه شي، او یقینا چې ما درې ځلې دروغ ویلي؛ هغه دا دي چې: زه ناروغ یم، او بله یې دا وینا چې: دا کار خو د دوی مشر کړی دی (بتان ماتول) او خپلې مېرمنې سارا ته یې دا وینا چې خبر یې کړه چې زه دې ورور یم، تر څو یې له شر څخه پاتې شي. خو په حقیقت کې دا درې واړه ویناوې داسې دي چې موخه ترې بل څه وي، خو کله یې چې ظاهري بڼه د دروغو ده نو ویې غوښتل خپله عاجزي ښکاره کړي او وښیي چې د دې وړ ندی چې نورو ته شفاعت وکړي؛ ځکه څوک چې الله ډېر پېژني او هغه ته د مرتبې له اړخه نږدې وي نو په همغومره کچه یې له هغه څخه وېره زیاته وي، او وبه وايي: زه په خپله د شفاعت مستحق یم چې راته وشي، زما پرته بل چاته لاړ شئ، موسی ته لاړ شئ. نو موسی ته به ورشي ورته به ووايي: ای موسی! ته د الله رسول یې، الله تعالی تاسره په خبرو کولو او تاته په رسالت درکولو فضیلت درکړی، موږ ته د خپل رب پر وړاندې شفاعت وکړه، آیا ته نه ګورې چې موږ په څه حال کې یو؟! هغه به ووايي: زما رب نن دومره غصه شوی چې لدې وړاندې داسې نه و غصه شوی او نه به لدې وروسته داسې غصه شي، او یقینا چې ما یو نفس وژلی دی، حال دا چې ماته یې د وژلو امر نه و شوی، زه خپله د شفاعت اړ یم چې راته وشي، زما پرته بل چا ته لاړ شئ، عیسی بن مریم ته لاړ شئ. نو عیسی ته به ورشي ورته به ووايي: ای عیسی! ته د

الله رسول يې، د هغه کلمه يې چې مريمې ته يې وسپارله او د هغه له خوا روح يې، تا د کوچنيوالي پر مهال په زانګو کې د خلکو سره خبرې کړي دي، موږ ته د خپل رب پر وړاندې شفاعت وکړه، آيا ته نه ګورې چې موږ په څه حال کې يو؟! هغه به ووايي: زما رب نن دومره غصه شوی چې له دې وړاندې داسې نه دی غصه شوی او نه به لدې وروسته داسې غصه شي، هغه د خپلې کومې تېروتنې يا ګناه يادونه ونه کړي، (وبه وايي) زه په خپله د شفاعت مستحق يم چې راته وشي، زما پرته بل چاته لاړ شئ، محمد - صلی الله علیه وسلم - ته لاړ شئ. نو محمد صلی الله علیه وسلم ته به ورشي ورته به ووايي: ای محمدا! ته د الله رسول او وروستی پېغمبر يې، الله تعالی ستا مخکني او وروستني ګناهونه بخښلي دي، موږ ته د خپل رب پر وړاندې شفاعت وکړه، آيا ته نه ګورې چې موږ په څه حال کې يو؟! نو زه به د عرش لاندې ځای ته راشم او خپل رب ته په سجده پريوځم، نو الله تعالی به پر د خپلو ستاينو او ښايسته ثنا ويلو (دروازه) پرانيزي، يعنې دومره ثنا او ستاينه به يې وکړم چې زما څخه وړاندې بل چا نه وي کړي، بيا به وويل شي: ای محمده! سر پورته کړه، وغواړه درکول کېږي، شفاعت وکړه؛ شفاعت دې قبلېږي، نو سر به پورته کړم ، وبه وايم: زما امت ای ربه، زما امت ای ربه، نو شفاعت به يې ومنل شي. او ورته به وويل شي: ای محمده! د خپل امت څخه دې بې شمېره خلک د جنت له ښ دروازې څخه ننباسه، حال دا چې دوی به د نورو سره په نورو دروازو کې د ننوتلو برخه هم ولري. بيا يې وويل: قسم په هغه ذات چې زما نفس يې په لاس کې دی چې د جنت د دوو دروازو د څنډو تر منځه دومره واټن دی لکه د مکې او صنعاء او يا د مکې او د شام د بصرا تر منځه؛ کوم چې د حوران ښار دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8345

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee